# ستاسي مسؤوليتونه او دا چې که تاسې په خپل هستوګنځي کې ستونزي ولري نو څه وکړئ

scottish refugee council

Pashto

اپریل 2010

هستوګنځی یا اوسیدلو ځای چي د کورنیو چارو وزارت لخوا ورکړ شوي وي (پخوا د NASS د هستوګنځي په نامه یادیده) باید پاک، د ژوند کولو وړ او خوندي وي.

ستاسي هستوګنځی باید په له اور څخه د حفاظت لپاره مناسب تیاري ولري او باید چي لندبل ونه لري او نه هم د ترمیم او رغولو لویو کارونو ته اړتیا ولري.

دا پاڼکی ستاسي حقوق او مسؤلیتونه، او ستاسي د هستوګنځي برابرونکي د مسؤلیتونو غټ ټکي بیانوي، او دا چي که ستونزه ولرئ نو څه وکړئ او موږ څنګه کولای شو چي مرسته وکړو.

**کله چي زه په یوه هستوګنځي کې ژوند کوم زما مسؤولیتونه کوم دي؟**

تاسي باید:

- خپل هستوګنځی پاک وساتي او د کور سامان او لوازمو ته پاملرنه وکړئ؛
- د ملکیت او عامه سیمو ساتنه او څارنه وکړئ. د مثال په توګه، دا ډاډ تر لاسه کول چي مشترکه زیني پاکي دي او هیڅ ډول شخصي مالونو، کالیو او نور سامان هلته نشته؛
- د کورنی خځلي په سمه توګه لیري وغورځوئ. په دي کي په سمه او ټاکل شوي سیمه کي د کڅافاتو د بیلر تشول شامل دي؛
- د کورنیو چارو له وزارت څخه د لیکل شوي اجازه لیک ترلاسه کول چي میلمه د شپي لخوا پاته شي، او دا کال **مخکی** له هغه وکړئ چي کوم کس ته اجازه ورکړئ چي له تاسي سره پاته شي؛
- د کورنیو چارو له وزارت څخه د لیکل شوي اجازه لیک ترلاسه کول **مخکی** له هغه چي تاسي خپل هستوګنځی د شپږو میاشتو په موده کي تر 14 ورځو ډیر (په مجموع کې) پرېږدئ. که چیرې تاسي د خپل هستوګنځي له پرېښودلو مخکي دا اجازه ترلاسه نکړئ، کیدای شي خپل هستوګنځي له لاسه ورکړئ؛
- **هر څومره ژر چي ممکن وي** د خپل هستوګنځي برابرونکي ته د ملکیت په اړه **د هر ډول ستونزي راپور ورکړئ**؛ او
- د خپل هستوګنځي برابرونکي ته د ترمیم لپاره ستاسي هستوګنځي ته د لاسرسي اجازه ورکړئ.

Scottish Refugee Council, 5 Cadogan Square, (170 Blythswood Court), Glasgow G2 7PH Tel: 0141 248 9799, Fax: 0141 243 2499,
www.scottishrefugeecouncil.org.uk
د سکاټلنډ د کډوالو کونسل په سکاټلنډ کې ثبت شوې یو خیریه اداره ده. د خیریه اداری
د ثبت شمیره: SC008639

## که چیرې د خپل هستوګنځي په اړه ستونزه ولرم نو زه باید څه وکړم؟

که چیرې تاسي د خپل هستوګنځي په اړه هر ډول ستونزې ولرئ، تاسي باید په لومړۍ مرحله کي د هغه په اړه د خپل هستوګنځي برابرونکي ته خبر ورکړئ. ستاسي د هستوګنځي برابرونکي باید تاسي ته خپل د اړیکو تفصیلات هغه وخت چي تاسي هلته انتقال شوي درکړي وي. که چیرې تاسي د هغوی د اړیکو تفصیلات نه لرئ، مهرباني وکړئ او له موږ سره اړیکي ونیسي او موږ کولای شو په دې اړه له تاسي سره مرسته وکړو. له موږ سره د **وړیا ټیلیفون:0800 085 6087** له لارې تماس ونیسئ؛ په یاد ولرئ چي زموږ له وړیا ټیلیفون سره یوازې د لیني ټیلیفونو له لارې اړیکي نیولی شئ.

هغه ستونزي چي **باید** راپور یې ورکړی شي کیدای شي لاندي ورکړ شوي لیست کي شامل وي خو په دې لیست پورې محدود نه دي. دا مثالونه همدا رنګه دا ښیي چي ستونزي ته ځواب ویل به اټکل څومره وخت ونیسي.

| ستونزه | ځواب/ د جوړولو وخت |
|---|---|
| د ژوند کولو لپاره نا امنه شرایط لکه د ګاز بهیدل، سیلاب یا د اور لګیدلو تاوان | د ستونزي په اړه د خبر ورکولو له وخت څخه د 2 ساعتونو دننه ځواب ورکول |
| د ژوند کولو لپاره د سختو شرایط ستونزي لکه د ګرمو اوبو نشتوالی، د بریښنا نشتوالی او یا دا چي د اور لګیدلي زنګ کار نه کوي | د ستونزي په اړه د خبر ورکولو له وخت څخه د 24 ساعتونو دننه ځواب ورکول |
| د ژوند کولو لپاره د عاجل شرایطو ستونزي لکه د نلکو جزیي بندیدل، د کړکیو ترمیمول یا کړکی بندي شوي وي | د ستونزي په اړه د خبر ورکولو له وخت څخه د 24 ساعتونو دننه ځواب ورکول؛ د 7 ورځو دننه د هغه ترمیمول |
| ورځنۍ ستونزي، لکه د کالیو د مینځلو ماشین کار نه کوي، د کور سامان بدلیدلو ته اړتیا لري یا باندنی رغوني او ترمیمونو ته اړتیا لیدل کیږي | ستونزه باید د خبر ورکولو له وخت څخه د 28 ورځو دننه سمه کړی شي |

مهمه دا ده چي په یاد ولرئ چي تاسي دا حق لرئ چي په پاک، خوندي او امن هستوګنځي کي ژوند وکړئ. تاسي باید چي د فزیکي خطر سره مخ نه یاست، که هغه د ملکیت او سامان او جوړوني لخوا وي، یا د ګاونډیانو او نور خلکو لخوا وي.

که چیرې ستاسي د هستوګنځي برابرونکي ستونزه حل نه کړي، موږ کولای شو ستاسي په استازیتوب له هغوی سره اړیکي ونیسو او دا خبره معلومه کړو چي ستونزه ولي نه دي حل شوي، یا که مناسبه وي، د کورنیو چارو له وزارت سره اړیکي ونیسو.

**زما د هستوګنځي برابرونکی څه مسؤولیت په غاړه لري؟**

برسیره پر دي چي تاسي ته د ژوند کولو لپاره یو خوندي او پاک ځای درکړي، ستاسي د هستوګنځي برابرونکي دنده لري چي:

- ستاسي له راتګ سره سم یوه «لنډه پیژندنه» په هغه ژبه چي تاسي پري پوهیږئ، تاسي ته درکړي. په دي لنډه پیژندنه کي ستاسي د هستوګنځي د شاوخوا ځای دربنودل، له شیانو څخه د کار اخیستلو په اړه توضیحات او ستاسي د قرارداد د تفصیلاتو غټ ټکي بیانول شامل دي؛
- ستاسي د اړتیا په صورت کي د یوه ژباړن بندوبست کول؛
- په عاجل حالاتو کي له هغوی سره د اړیکو نیولو د څرنګوالي په اړه تاسي ته تفصیلات درکول؛
- د کور د سامان، برقي سامانونو، نلونو او هر ډول ساختماني ستونزو د ترمیم پیسي ورکول، خو چي دا څرګنده وي چي دا ستاسي یا ستاسي د اپارتمان د ملګري لخوا د ناوړه استعمال په نتیجه کي نه دي پیښ شوي؛
- تاسي ته په لیکل شوي ډول دا څرګندول چي شکایاتو ته به څنګه او څه وخت ځواب ویل کیږي. دا به دا ثابتوي چي تاسي د یوي ستونزي/ شکایت په اړه له هغوی سره تماس نیولی د ی؛ او
- د هستوګنځي په اړه هر ډول شکایاتو ته د منلو وړ وخت دننه ځواب ویل. په یاد ولرئ چي شکایاتو ته ځواب ویل کیدای شي د ستونزي په شدت پوري اړه ولري او ځیني وختونه کیدای شي د هغوی حل تر 28 ورځو پوري وخت ونیسي. د بشپړ تفصیلاتو لپاره د دي پاڼکی مخکیني پاڼه کي ورکړ شوي جدول ته مراجعه وکړئ.

**که چیري زه له ځورولو، ښکنځلو یا وهلو ټکولو سره مخ شم نو زه باید څه وکړم؟**

په هر ډول هستوګنځي کي چي تاسي یاست، تاسي دا حق لرئ چي هلته په امن سره ژوند وکړئ، پرته له دي چي د ځورولو یا تهدید ویره وکړئ. که چیري کوم څوک ستاسي د نسل، د پوستکي رنګ، قومیت، جنس، جنسي اړیکو یا اصلي هیواد په وجه له تاسي سره بده رویه کوي، دا کار یو جدي جنایي جرم دی او غیرقانوني دی.

تر ټولو لومړی تاسي باید خپل سیمه ایز پولیس ته د هغه څه په اړه چي پیښ شوي دي خبر ورکړئ؛ هغوی به د پیښي په اړه تحقیق او څیړنه وکړي. تاسي کولای شئ د Strathclyde پولیسو سره په 0141 532 2000 شمیره اړیکي ونیسئ او هغوی به ستاسي سیمه ایز پولیس دروپیژني چي هغه کولای شي له تاسي سره په راپور ورکولو کي مرسته وکړي.

که چیري تاسي نشي کولای یا نه غواړئ چي له پولیس سره مخامخ خبري وکړئ، تاسي کولای شئ له موږ سره اړیکي ونیسئ او موږ به په محرمیت سره د جرم په راپور ورکولو کي مرسته وکړو، او که چیري مناسبه وي، موږ کولای شو ستاسي اړیکي له هغو ادارو سره ټینګي کړو چي تاسي ته رواني مرسته او ملاتړ درکړي.

دا مهمه ده چي تاسي د هر ډول نسلي ځورولو، ښکنځلو او یا وهلو ټکلو پیښي ثبت کړئ. تاسي باید:

- هغه څه چي پیښ شوي دي یادداشت کړئ، په ګډون د وخت، نیټه، او هغه ځای چي هغه پیښ شو
- ټول هغه یاددابنتونه، لیکونه، پیغامونه یا بریښنالیکونه چي تاسي ته لیږل شوي دي وساتئ
- له نورو خلکو سره خبري وکړئ (د مثال په توګه، نور ګاونډیان یا په کرایه هستوګن خلک) کوم چي کیدای شي د هماغه کس له رويې او سلوک نه اغیزمن شوي وي